# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۰مه | ۶۱۴مه ګڼه

2 017550 139621


## د سولې په تړاو سیمه ییزه اجماع؛

### افغان سیاسیون هڅه کوي د جګړې په ختمولو کې د ګاونډیانو همکاري خپله کړي



۳

**امریکا لا هم د جګړې او سولې مدیریت کوي**

۲ مخ

**ایا امریکا به په افغانستان کې خپله دوسیه وتړي؟**

۲ مخ

**د واکسین تر تطبیق مخکې؛ کووېډ- ۱۹ هر وخت په کمین کې**

۳ مخ

## راپورونه: د ناټو دفاع وزیران راتلونکې پنجشنبې د افغانستان پر ماموریت او سولې پروسې خبرې کوي

د راپورونو له مخې، د ناټو سازمان د دفاع وزیران راتلونکې پنجشنبې د افغانستان پر ماموریت او سولې پروسې خبرې کوي. د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې د ناټو سازمان مطبوعاتي دفتر ویلي چې ټاکل شوې ده، د سازمان د دفاع وزیرانو دوه ورځنۍ غونډه د ویډیو له لارې د راتلونکې پنجشنبې په ورځ پیل شي.

سرچینې زیاته کړې چې په دې غونډه کې به د دفاع وزیران د سازمان اړوند دفاعي موضوعاتو باندې بحثونه وکړي. د ناټو مطبوعاتي دفتر زیاته کړې چې د دفاع وزیرانو په دې دوه ورځنۍ ناسته کې به په عراق او افغانستان کې د سازمان ماموریتونه هم و ارزول شي.

سرچینې ویلي، د دفاع وزیران به له افغانستانه د سازمان د همکاریو پر دوام، د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې پروسې پر ملاتړ هم یو ځل بیا ټینګار کوي.

ناټو ویلي چې دوی له افغان امنیتي ځواکونو سره د پوځي او مالي ملاتړ ترڅنګ له افغانستان او افغانانو سره خپلو اوږدمهاله همکاریو ته هم دوام ورکوي.

دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د امریکا د شوې هوکړې له مخې به تر راتلونکي کال پورې ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې تر راتلونکي کرېسمېس پورې به ټول سرتیرې له افغانستان څخه وباسي، خو د ناټو عمومي منشي بیا د ټرمپ د دغو څرګندونو په غبرګون کې ویلي چې له امریکا سره په ګډه افغانستان ته تللي او په ګډه به له دغه هېواده بېرته وځي.

## خلیلزاد: د امتیاز اخیستو لپاره د تاوتریخوالي زیاتول ګواښوونکي دي



۵ مخ

## ځېره


۴ مخ

### ټي ایس ایلیټ

امریکايي نقاد، شاعر او لیکوال ایلیټ د نوبل پر جایزې سربېره، د نړۍ له ۱۸ مخکښو پوهنتونونو افتخاري دوکتوراوې هم اخیستې دي.



## کرنې ریاست: په زابل کې د پستې ۴۵۷ جریبه سوداګریز بڼونه جوړېږي



د زابل د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، چې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» په همکارۍ به د دغه ولایت په مرکز کلات او شاجوی، شهرصفا او شینکۍ ولسوالیو کې ځمکوالو او بڼوالو ته د پستې ۴۵۷ جریبه سوداګریز بڼونه جوړ شي.

د زابل د کرنې ریاست چارواکي زیاتوي، چې په همدې موخه د کرنې ریاست له خوا د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ یوشمېر بڼوالو او ځمکوالو ته د پستې سوداګریزو بڼونو جوړولو په پار ۱۰۵ د اوبو درې زره لېټره ټانکۍ، ۶۰ متره یو اېنچ پایپ او ۱۸۰ متره جال ورکړل شوي دي.

دغه راز ټاکل شوې، هغو بڼوالو او ځمکوالو ته چې د پستې سوداګریز بڼونه ورته جوړېږي، د پستې د نیالګیو پیوند، د ځمکې ډیزاین او نقشې او همداراز د پستې بڼونو جوړولو اړوند اړینې لارې چارې په عملي او نظري ډول وښودل شي.

## بلنکین: تعداد کوچکی از نیروهای امریکایی را در افغانستان حفظ می شود



تونی بلنکین، یکی از مشاوران بلند پایهٔ جو بایدن، نامزد انتخابات ریاست‌جمهوری امریکا، می‌گوید که درصورت پیروزی بایدن در انتخابات، او یک رقم کوچک از نیروهای امریکایی را در افغانستان حفظ خواهد کرد. قراراست انتخابات امریکا به تاریخ سوم ماه نومبر سال روان میلادی، برگزار شود.

بلنکین درگفت‌وگو با شبکهٔ سی‌ان‌ان، می‌گوید که بایدن از تلاش‌های دیپلوماتیک برای حل بحران افغانستان و گردهم آمدن افغانان، پشتیبانی می کند. او می‌افزاید که هرگاه بایدن به قدرت برسد، مسیر بیرون کشیدن سربازان امریکایی را از افغانستان ادامه خواهد داد.

اما تونی بلنکین تأکید می‌ورزد که بایدن به‌گونهٔ مسؤلانه دراین باره برخورد خواهد کرد، نه این که به‌گفتهٔ او همانند رئیس‌جمهور دانلد ترمپ که برای تقویت موضع‌گیری سیاسی‌اش در انتخابات تأکید کرده‌است، سربازان امریکایی را تا کریسمس بیرون خواهد کرد.

او در ادامه می‌گوید که بایدن می‌خواهد که یک نیروی کوچک ضد هراس‌افگنی امریکا را در افغانستان نگهدارد تا گروه‌های مانند القاعده و داعش، ظرفیت حمله بر امریکا را از این کشور، نیابند.


پیش از این، رابرت اوبراین، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور ترمپ بر بیرون شدن سربازان این کشور از افغانستان تأکید کرد؛ اما او گفته‌های اخیر ترمپ را دربارهٔ بیرون شدن همهٔ نیروهای امریکایی از افغانستان تا کم تر از سه ماه دیگر، برخاسته از احساسات می‌داند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دریـــځ

## امریکا لا هم د جگړې او سولې مدیریت کوي

د امریکا او طالبانو له هوکړې وروسته امریکایان بیا بیا داسې پیغامونه ورکوي، چې گواکې د روانو ستونزو او جگړې پړه پر دوی نه ده او دا افغانان دي چې په خپلو منځونو کې نه سره جوړېږي. امریکایي چارواکي اوس د یو اړخ په توگه نه، بلکې د یو زورور منځگړي په توگه ځان را مخکې کوي او دواړو اړخونو ته له فشارونو سره مله نصیحتونه کوي. دوی داسې ښیي چې گواکې امریکا نه یوازې د ستونزو لامل نه ده؛ بلکې غواړي چې د افغانستان ستونزه حل شي.

د امریکا او طالبانو د توافق ډول له سره همداسې و چې پکې یوازې د امریکا او طالبانو د لانجې حل ته پام شوی و. په دې هوکړه کې نه یوازې امریکایي ځواکونه خوندي شوي دي؛ بلکې نور امریکایي اهداف هم تر برید لاندې نه راځي. زرگونو امریکایي ځواکونو ته د وتلو خوندي لاره برابره شوې ده او د دې تر څنگ یې په لگښتونو کې هم میلیاردونه ډالره کمی راغلی دی. په هوکړه کې له سره دې ته پام نه کېده او نه شوی چې افغانان هم خوندي شي، جگړه ودرېږي او په افغانستان کې سوله او ثبات راشي. آن په هوکړه کې د امریکا له اړخه په شعوري ډول داسې مسایل ځای پر ځای شوي چې د سولې پر وړاندې خنډ جوړوي او د جگړې له دوام سره مرسته کوي. له همدې امله د امریکا او طالبانو له هوکړې نږدې اووه میاشتې وروسته هم افغان وژنه همغسې روانه ده او د سولې په خبرو کې کوم خاص پرمختگ نه دی شوی.

د سولې په روانو خبرو کې د ځنډ او خنډ تر شا یوازې له دې امله امریکا نه ده چې په هوکړه کې یې داسې مسایل ځای پر ځای کړي، چې اوس په خبرو کې د خنډ سبب شوي؛ بلکې امریکا اوس هم په خپل دریځ او پټو پیغامونو سره د دغو خنډونو تر شا ده. امریکایي چارواکي اوس هم حکومت او طالبانو دواړو ته هغه څه نه وایي چې په ظاهره یې څرگندوي، بلکې دواړو اړخونو ته داسې پیغامونه انتقالوي چې خنډ یې جوړ کړی دی. اوس هم حکومت ته ملاتړ او په جگړه کې د افغان امنیتي ځواکونو تر څنگ د درېدو پیغام ورکوي، خو طالبانو ته بیا وایي چې دوی له دې سره موافق دي او ملاتړ یې کوي، چې د دوحې هوکړه باید د بین الافغاني خبرو اساس وي. له بله اړخه د دوی فشار د خبرو د پیل سبب شو او د دوی فشار د پرمختگ سبب هم کېږي؛ خو دوی په قصدي او شعوري ډول داسې فشار نه راولي چې دواړه اړخونه جگړې او وژنې بندې کړي او د سولې په خبرو کې محسوس پرمختگ وشي.

له همدې امله امریکا لا هم په افغانستان کې د جگړو او وژنو تر شا ده چې له بده مرغه دواړو اړخونو ورته د دې حالت زمینه برابره کړې ده. موږ باید هېر نه کړو چې جگړه هم د امریکا په خوښه وه او د سولې او جگړې اوسنی حالت هم د امریکا په خوښه او پلان مخ ته ځي. تر هغو چې موږ د امریکا له مداخلې پرته خپلواک گامونه وانه خلو، نه به جگړه ودرېږي او نه به هم واقعي سوله ووینو.

# ایا امریکا به په افغانستان کې خپله دوسیه وتړي؟

سیدالرحمن سالار

په دوحه کې له طالبانو سره د امریکا تړون، له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو ایستل، د پوځي اډو او تاسیساتو ړنگول او نقلول؛ دا ټول په افغانستان کې د امریکا د قطعي ماتې ښودنه کوي.

خو د بین الافغاني خبرو نامعلوم برخلیک، په هېواد کې د جگړو شدت او د دوحې تړون خلاف د طالبانو پر مرکزونو د امریکا د هوایي بریدونو بیا پیلول، په افغانستان کې استعمال شوې وسلې او پوځي تجهیزات د پاکستان پوځ په واک کې ورکول چې دا شل کاله یې په مختلفو نومونو افغانان وربانډې وژلي او د ځینو رسنیو د راپورونو له مخې د ډیورنډ فرضي کرښې پورې غاړې ته یې ځای پر ځای کول؛ د افغانستان په اړه د امریکا د راتلونکي پېچلي پلان په اړه شکونه پیدا کوي او داسې نه ښکاري چې دغه هېواد دې په افغانستان کې د خپل پوځي شتون په ختمېدو سره، خپله دوسیه وتړي.

امریکا او ملگرو یې په ۲۰۰۱ کال کې په مختلفو پلمو پر افغانستان پوځي تېری وکړ، چې سږ کال یې شل کاله پوره شول او په دې موده کې یې په افغانستان کې ډول ډول وسلې و ازمویلې، میلیونونه افغانان شهیدان، ټپیان او بې کوره شول.

شعارونه یې له بشري حقونو، ښځو حقونو، بیان آزادۍ څخه دفاع او له (ترهگرۍ) سره مبارزه وه؛ خو په عمل کې دوی خپله د بشري حقونو تر ټولو ستر تېري کوونکي پاتې شوي او د دوی ټولې کړنې ترهگري وه او دا دي شل کاله یې هره ورځ او هره شپه د خلکو شخصي حریم مات کړی، آن د ودونو او جنازو پر مراسمو یې بریدونه وکړل، کلي او بانډې، جوماتونه او مدرسې یې له خاورو سره خاورې کړل، خلک یې په سپیو وداړل، ضعیف یورانیم او سپین فاسپورس او نورې منعه شوې او نا تعریف شوې وسلې یې وکارولې، آن څو ځله یې پر افغان امنیتي ځواکونو هم بریدونه وکړل، لنډه دا چې داسې جنایتونه یې وکړل چې ښایي د بشریت په تاریخ کې بېلگه ونه لري.

که څه هم امریکا په ۲۰۱۴ کال کې له افغان دولت سره امنیتي تړون لاسلیک کړ، هغه امنیتي تړون چې عام ولس یې پر خلاف هماغه وخت غږ پورته کړ، خو تر نن پورې امریکا د دغه تړون خیال نه دی ساتلی او هر وخت یې چې زړه غوښتي، د افغانستان په اړه یې خپله پالیسي بدله کړې.

هغه تړون چې متن یې هم خپله د امریکایانو لخوا لیکل شوی او ځان ته یې ښه ډېر امتیازات ټاکلي، خو بیا یې هم نه عملي کوي، نو دا د دې ښودنه کوي چې امریکا په هېڅ امتیاز هم نه راضي کېږي، بلکې نورو ته د ژوند کولو پر حق هم نه ده قایله.

د امریکا د همدې ټول غوښتنو له امله اوس د افغانستان د پارلمان ډېری استازي او نور بانفوذه سیاسي گوندونه او اشخاص له امریکا سره پر شوي پوځي تړون پښېمانه دي او لغوه کېدل یې غواړي.

د روان کال د فبرورۍ په ۲۹مه یې د قطر په پلازمېنه دوحه کې له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړ، چې یوه مهمه برخه یې له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو عسکرو وتل او په دې موده کې یو پر بل برید نه کول دي؛ خو اوس طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې امریکا د دغه تړون خلاف ډېر هوایي بریدونه کړي.

چې خبره رانه اوږده نشي، هدف دا دی چې امریکا هېڅ وخت خپل اهداف چا ته نه دي مشخص کړي او هېڅکله یې له هېچا سره پر کړو ژمنو او تړونونو وفا نه ده کړې او له دې وروسته یې هم نه کوي.

یو شی چې اوس ډېر روښانه دي، دا دي چې امریکا له افغانستان څخه خپل عسکر وباسي، خو هېڅکله به په افغانستان کې خپله دوسیه ونه تړي.

دا چې په کومو پلمو به خپل نفوذ ته دوام ورکړي، ښایي یوازې سپینه ماڼۍ او پنټاگون پوهېږي؛ خو له اوسني وضعیت څخه داسې ښکاري چې امریکا په افغانستان کې د جگړو دوام د ځان په گټه گڼي، خو داسې جگړه چې ظاهراً د امریکا پښه پکې ښکېل نه وي، بلکې دوی به د مشر ورور رول لوبوي او کله یې چې زړه وي برید به کوي.

امریکا ښکاره نورو هېوادونو ته د افغانستان په جگړه کې د ښکېلېدو بلنه ورکوي او که څوک شک لري؛ نو یوټیوب ته دې مراجعه وکړي او ښایي د ټرمپ هغه وینا لاهم موجوده وي، چې په ۲۰۱۹ کال کې یې خپلې کابینې ته د خبرو پر مهال پاکستان، هند او روسیې ته د افغانستان په جگړه کې د گډون بلنه ورکړه.

امریکا په پوځي ډگر کې ماتې خوړلې، خو متاسفانه افغانان تل دښمن ته له ماتې ورکولو وروسته خپلو موخو ته په رسېدو کې ناکام شوي.

افغانان تل په پوځي ډگر کې دښمن ته له ماتې ورکولو وروسته د خپلمنځي اختلافونو له امله دومره کمزوري شوي، چې بالاخره یا بېرته هماغه ماتې خوړلی دښمن وربانډې برلاسی شوی او یا د بل دښمن یرغل ته زمینه برابره شوې.

په هر صورت! اوس یوازینۍ هیله بین الافغاني خبرو ته ده او که خدای مه کړه دغه خبرې ناکامې شوې، نو اوسنۍ ناکامه امریکا به په افغانستان کې د پاتې کېدو جرئت پیدا کړي؛ خو دا ځل به نه یوازې امریکا؛ بلکې ځینې گاونډې هېوادونه هم مداخله وکړي او وضعیت به کټ مټ د سوریې او عراق په شان وي چې هغه وخت به دا ټول مسوولیت هغو چارواکو ته راجع وي، چې اوس په بېلابېلو پلمو د بین الافغاني خبرو ناکامېدل غواړي.

همدا ډېر ښه فرصت دی چې ښکېل افغان لوري باید د خپل مظلوم ملت او هېواد حال او راتلونکي ته پام وکړي، له زور ازموینې او ځان غوښتنو تېر شي، یو بل وزغمي او همدا د برې یوازینۍ لار ده چې هم امریکا او هم نور بدغواړي ناکامولای شي.

## وکیلان: ارگ مېشتو ته ننگ دی چې د ولسمشر لومړی مرستیال د کابل د امنیت مسوول ټاکي



د ولسي جرگې رییس د ولسوالیو د قوماندانانو پر ټاکلو نیوکه کوي او وایي، د کابل د امنیت لپاره د امرالله صالح گومارل امنیت نه ټینگېږي او د (امنیتي تړون) ډېری غړي د مور او پلار له خوا عاق شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې کورنیو چارو وزارت د روان کال د زمري په ۲۴مه د «امنیتي تړون» پروگرام جوړول اعلان کړل او د هغه موخه یې د امنیت ښه ټینگښت او د خلکو د راټولېدو له لارې له جرمونو او جنایتونو سره مبارزه وبلله.

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح په دې وروستیو کې ویلي چې د ولسمشر په لارښوونه د تلې له ۲۶مې وروسته د څو اونیو لپاره په مستقیم ډول د کابل امنیتي مسایلو ته رسېدنه پر غاړه اخلي.

هغه خلکو ته په خطاب کې ویلي: ((د امنیتي تړون تطبیق به د دغه پروگرام بوه برخه وي. په کابل کې د لاس د ورغوي په څېر بلد یم... تاسو ډاډه اوسئ، د غلو، اوباشو، د خلکو ځوروونکو، باج اخیستونکو، له قانونه سرغړوونکو، د خلکو او عامه ځمکو د غصب کوونکو، تکراري مجرمانو چې تر پوښښ لاندې فعالیت لري او هغه زورواکو چې په ښکاره قانون خوښوي، د ټولو نوملړ له مخکې ترتیب شوی دی.»


په ورته وخت کې د ولسي جرگې په پرونۍ ناسته کې صالح ته د امنیت سپارلو پر موضوع خبرې وشوې. په ولسي جرگه کې د میدان وردگو د خلکو استازي مهدي راسخ وویل: «د حکومت دغه تصمیم ښیي چې د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رییس بې کفایته دي، که دوی د مدیریت توان نه لري ښه دا ده چې له دندو لرې شي.»

په دې جرگه کې د فراه د خلکو استازې بلقیس روشن وویل: «ارگ مېشتو ته ننگ او شرم دی چې د ولسمشر لومړی مرستیال د کابل د امنیت مسوول ټاکي.»

دغه راز په ولسي جرگه کې د کاپیسا د خلکو استازي محمد اقبال کوهستاني د ولسمشر له خوا د ولسوالیو لپاره ۱۰۰ امنیه قوماندانانو ته په اشارې وویل، یاد کسان د افسرانو ذاتي قانون خلاف پر دندو گومارل شوي دي.

نوموړي دغه گومارنې سلیقوي وبللې او ویې ویل، ډېری هغه کسان چې د امنیه قوماندانانو په توگه گومارل شوي د جنگ او مدیریت وړتیا نه لري.

## منیب: حکومتي مشران د خپل واک د بقا لپاره د سولې پروسې پر وړاندې خنډونه جوړوي



د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان مشر او د حج او اوقافو وزارت پخوانی وزیر عبدالحکیم منیب وایي چې د حکومت رهبري د خپل واک د بقا لپاره د سولې پروسې پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي.

نوموړي تېره ورځ په مزارشریف کې د سلگونو دیني علماوو یوې غونډې ته وویل چې طالبان هم باید له خپل لوري جگړه بنده کړي. مولوي منیب زیاته کړې چې په افغانستان کې د مسلمانانو ترمنځ جگړه روانه ده او په دغسې حالت کې پر دواړو طرفونو واجب ده چې سوله وکړي.

هغه غوښتنه کړې چې افغانان د رښتینې سولې په تمه دي، خو باید روان تاوتریخوالی پای ته ورسېږي. د حج او اوقافو پخواني وزیر همدا راز پر خلکو هم غږ کړی چې سره یو موټی شي او یو بل ته ښښنه وکړي.

نوموړي زیاته کړې: «داسې سوله غواړو چې موږ ټول د ورونو په څېر ژوند په کې وکړو او د هېڅ لوري حقوق په کې تر پښو لاندې نه شي.»

منیب اندېښنه ښودلې چې یو شمېر استخباراتي کړۍ غواړي چې د سولې روانه پروسه زیانمنه کړي، خو هغه په خپلو خبرو کې پر حکومت تور پورې کړ چې د سولې په خبرو کې تعلل کوي. نوموړي زیاته کړې: «حکومتي مشران د خپل قدرت د بقا په لټه کې دي، د مصالحې عالي شورا او د سولې مذاکراتي پلاوي ډېری غړي د سولې د خبرو اهلیت نه لري؛ ځکه دغه پروسه ځنډنۍ شوې ده.»

د هغه په خبره، د حکومت ټول امکانات د اختلافاتو په رامنځته کېدو کې مصرفېږي چې ورسره د سولې په لارې خنډونه جوړ کړي او د قدرت دوام ته لاره پرانیزي. د حرکت انقلاب اسلامي مشر ویلي چې خلک په هېواد کې له فساد، قتل، بندي کېدو او له قدرته د ناوړې گټې اخیستنې ستړي شوي او د بدلون غوښتنه کوي.

هغه په هېواد کې وروستیو جگړو او بریدونو ته په اشارې ویلي چې طالبان هم باید د خلکو غوښتنو ته مثبت ځواب وواېي او جگړې ته د پای ټکی کېږدي.

په ورته وخت کې د مولوي عبدالحلیم په نوم دیني عالم دغې غونډې ته په خپلو خبرو کې ویلي، چې په وروستیو میاشتو کې د خلکو تر منځ قومي او ژبني تعصب لوړې کچې ته رسېدلی دی. هغه زیاته کړې، چې دغه حالت خطرناکې پایلې درلودلی شي او غوښتنه یې وکړه، چې خلک باید متحد او یو موټی شي.

# د واکسین تر تطبیق مخکې؛ کوویډ- ۱۹ هر وخت په کمین کې دی

اعظم منور

څو ورځې مخکې د چین په چینگداو ښار کې د کوویډ- ۱۹ دوولس مثبتې پېښې ثبت شوې او دا خبر په رسنیو کې په پراخه کچه منعکس شو.

دا په داسې حال کې ده چې چین څو میاشتې وړاندې اعلان وکړ چې کوویډ- ۱۹ یې په بشپړه توگه کنټرول کړی او مثبتې پېښې نه دي ثبت شوې، نو ځکه په چین کې ټولې چارې د پخوا په شان په نورمال ډول روانې شوې.

ډاکټران وايي چې دغه ویروس د ناروغ انسانانو، ککړو اجسامو او اشیاوو په وسیله انتقالېږي او ډېر خلک یې ټرانسپورټي مرکزونو، هوټلونو، لویو مارکېټونو او ... ته وړي، نو ځکه په ډېرى هېوادونو کې پر یادو ځایونو محدودیتونه وضعه شوي دي.

دا چې د روانې اکتوبر میاشتې له لومړۍ تر اتمې نېټې په چین کې د ملي جشن عمومي رخصتي وه او یاد هېواد شاوخوا ۱۴سوه میلیونه نفوس لري چې ډېرى خلک یې په خصوصي او دولتي ادارو کې کار کوي، نو په دا ډول رخصتیو کې ټول خلک بېلابېلو سیمو ته سفرونه کوي او د ترانسپورټ برخه یې ډېره مشغوله وي او له بلې خوا په دې وروستیو کې چین ته له نورو هېوادونو څخه مسافرو ته د ویزو په ورکړه کې د کوویډ- ۱۹ له ویرې لگول شوي محدودیتونه هم تر ډېره لغوه شوي او د مسافرو تگ راتگ عادي شوی، نو ځکه د یاد ویروس د احتمالي انتقال خطر هم پر خپل ځای دی.

د چیني رسنیو د معلوماتو له مخې، په دې رخصتیو کې په ټول چین کې کابو شپږ سوو میلیونو تنو سفرونه کړي.

د رسنیو د معلوماتو له مخې، چنگداو ښار کې کابو نهه میلیونه کسان ژوند کوي، چې د خپلې طبیعي ښکلا له امله هر کال د میلیونونو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو کوربه وي.

کله چې د اکتوبر په نهمه پکې د کوویډ- ۱۹ دوولس مثبتې پېښې ثبت شوې، نو ښاروالۍ یې امر وکړ چې باید ټول استوگن په پنځو ورځو کې ازموینه وکړي.

د اکتوبر په ۱۴مه رسنیو خبر ورکړ چې تر دې دمه ۷ میلیونو او ۵سوو زرو تنو ازموینې کړې او د ۴ میلیونو او ۶۰ زرو تنو نتیجې معلومې شوې، ټولې منفي دي او هېڅ مثبت پېښه نه ده ثبت شوې.

پر دې سربېره، د چین حکومتي او خصوصي سکټور په ټول چین کې د هغو کسانو د معلومولو لپاره کمپاین پیل کړ چې له یادې نېټې څخه ۱۴ تېرو ورځو کې یې چنگداو ښار ته سفر کړی.

دا ډول کسانو او د هغوی د کورنۍ غړو ته په خپلو کورونو کې د ۱۴ ورځني قرنطین امر شوی او د قرنطین له پوره کېدو وروسته به اړوندې طبي معاینې کوي او له ډاډ تر لاسه کولو وروسته به خپلو کارونو ته ستنېږي او د باندې وتلو حق لري.

د کوویډ- ۱۹ ویروس د مخنیوي په موخه د چین د دولت له جدي اقداماتو او تابیاوو سره سره په چنگداو کې د یاد ویروس د نویو پېښو رامنځ ته کېدل دا ثابتوي، چې څو واکسین جوړ او تطبیق شوی نه وي، کوویډ- ۱۹ هر وخت د انسان ژوند گواښي او د برید احتمال یې پر خپل ځای دی.

هماغه ډول چې د روغتیا نړیوال سازمان هم ویلي، کوویډ- ۱۹ یوه نړیواله بلا ده، نو ځکه یې باید د مبارزې لپاره نړیواله همغږي موجوده وي او ټول په گډه هڅه وکړي چې مخه یې ونیسي.

له بده مرغه چې د ځینو هېوادونو مشران لا هم له دې ویروس څخه سیاسي استفاده کوي او دا کار نه یوازې د دوی خپلو خلکو؛ بلکې نړیوالو ته یو جدي خطر دی.

د لوېدیځو هېوادونو په تېره بیا امریکا مشران که څه هم ځینې یې کرونا ویروس تر گریوان ونیول، خو لاهم د یادو هېوادونو خلک له کوویډ- ۱۹ سره د خپلو حکومتونو پر مبارزې شک لري او وايي چې دوی یوازې شعارونه ورکوي.

څو ورځې مخکې د کرونا ویروس د امریکا د ولسمشر کورنۍ ته هم ورسید، ټرمپ، لومړۍ مېرمن او زوی یې پر کرونا اخته وپېژندل شول.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ډېرى سیاسي فعالان له کرونا ویروس سره د مبارزې په برخه کې د دغه هېواد د حکومت پر کړنو نیوکې کوي او حکومت د حقایقو پر پټولو تورنوي.

د امریکا مشهور سناتور برني سندرز څو ورځې وړاندې ټرمپ پر دروغو تورن کړ او ویې ویل، په داسې حال کې چې کوویډ- ۱۹ په امریکا کې تباهي جوړه کړې، بیا هم ټرمپ په دروغو سره خلک تېر باسي.

نوموړي ویلي چې په هرو ۲۴ ساعتونو کې په لسگونو زره امریکایان پر کرونا اخته کېږي، خو ټرمپ لا هم دغه موضوع خطرناکه نه بولي.

سندرز دغه راز ویلي چې د ټرمپ د بې علمۍ او سرتمبگۍ له امله امریکا د تباهۍ لور ته روانه ده.

له دې ټولو داسې معلومېږي چې له یوې خوا د ژمي سړه هوا په را رسېدو ده او له بلې خوا که څه هم په ډېرى هېوادونو کې د کرونا ضد واکسین څو کلینیکي پړاوونه بشپړ شوي؛ خو لا هم په عام ډول د تطبیق مرحلې ته نه دي رسېدلي، نو فعلاً وقایه او له کرونا ویروس ککړو کسانو سره له مستقیم تماس څخه ځان ساتل او د طب پوهانو د سپارښتنو عملي کول یوازینۍ لار ده.

# د سولې په تړاو سیمه ییزه اجماع؛

## افغان سیاسیون هڅه کوي د جگړې په ختمولو کې د گاونډیانو همکاري خپله کړي



د افغانستان د سولې له مسئلې سره هممهاله د سیمې هېوادونو ته د افغان سیاسیونو سفرونه پیل شوي دي. ټاکل شوې چې د افغان سولې په اړه سیمه ییزه اجماع پیاوړې شي، نو په همدې تړاو دغه سفرونه پیل شوي دي او گاونډیو هېوادونو هم له سولې سره د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړی دی. داسې راپورونه شته چې ښايي د همدې سفرونو په تړاو ځینې نور سیاسي شخصیتونه هم د سیمې هېوادونو ته لاړ شي او د افغان سولې په تړاو نړیوال ملاتړ لا پیاوړی کړي.

په افغانستان کې خونړۍ جگړه روانه ده، په دوحه کې د سولې مذاکرات له خنډونو سره مخ دي، خو یو شمېر افغان سیاسیون بیا په دې بوخت دي چې د سولې لپاره د سیمه ییزو هېوادونو اجماع پیاوړې کړي. په دې وروستیو کې د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله پاکستان، بیا هند او اوس دا دی ایران ته سفر کړی دی. ډاکټر عبدالله په پاکستان کې له مهمو لوړپوړو پاکستاني چارواکو سره پر افغان سولې خبرې وکړې او دوی له دې پروسې د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ. هند هم ځان د افغانستان د سولې د پروسې ملاتړی وباله او په خبره یې، د هغه سولې ملاتړ کوي چې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت رامنځ ته کېږي او په هېواد کې روانه جگړه پای ته رسوي.

د سیمې هېوادونو ته د سفرونو په دوام د ملي مصالحې عالي شورا رییس په درې ورځني سفر ایران ته تللی دی. نوموړي په دې سفر کې د ایران له ولسمشر حسن روحاني، د ایران د بهرنیو چارو له وزیر جواد ظریف او د دغه هېواد د پارلمان له رییس سره کتلي دي. د ایران ولسمشر او د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر دواړو له ډاکټر عبدالله عبدالله سره په بېلو لیدنو کې د افغانستان سوله د ټولې سیمې لپاره مهمه گڼلې ده.

د ایران د پارلمان رییس محمد باقر قالیباف ویلي چې دوی د افغانستان له خپلواکۍ، په دغه هېواد کې له اوسني دولت او د سولې له پروسې بشپړ ملاتړ کوي. د ایران ولسمشر حسن روحاني بیا ویلي چې د افغانستان د خلکو غوښتنې ته درناوی لري او د سولې د هغه پروسې ملاتړ کوي چې په افغانستان کې د کلونو لاس ته راوړنې خوندي کړي او په دغه هېواد کې روانه خونړۍ جگړه پای ته ورسوي. حسن روحاني دغه راز ویلي چې د کرونا وبا له امله په دې رامنځ ته شوو سختو شرایطو کې هم د افغانانو تر څنگ ولاړ دي او له دوی سره همکارۍ ته تیار دي. د ده په خبره: ((د سولې له هغه پروسې بشپړ ملاتړ کوو چې په افغانستان کې د تېرو کلونو لاس ته راوړنې وساتي او په دغه هېواد کې روانه جگړه پای ته ورسوي. د افغانستان سوله د سیمې په گټه ده او باید ملاتړ یې وشي)).

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم له افغان سولې سره د همکارۍ ډاډ ورکړی دی. ډاکټر عبدالله هم په دې لیدنه کې ویلي چې د افغانستان د سولې پروسه د سیمې د هېوادونو جدي او هر اړخیزې همکارۍ ته اړتیا لري او د سیمې د هېوادونو همکاري کولی شي افغانستان او سیمې ته ثبات راولي.

له دې سره جوخت د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار هم د پاکستان په بلنه اسلام اباد ته تللی دی. نوموړي په دې سفر کې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر محمود قریشي سره کتلي دي. محمود قریشي ویلي چې دوی له افغان سولې سره ډېره همکاري کړې ده او نړیوال یې دې همکارۍ ته د قدر په سترگه گوري. قریشي یو ځل بیا ډاډ ورکړی چې د عمران خان په مشرۍ د پاکستان حکومت په بشپړه توگه د سولې له پروسې ملاتړ کوي. گلبدین حکمتیار هم ویلي چې پاکستان ته یې د سفر موخه د افغانستان د سولې مسئله ده او په دې برخه کې د اسلام اباد همکاري مهمه بولي.

پاکستان، ایران او هند په سیمه کې هغه مهم هېوادونه بلل کېږي چې همکاري یې د سولې په پروسه کې اغېزناکه تمامېدلی شي. داسې اټکل کېږي چې د افغان سیاسیونو ځیرکانه سیاسي اقدامات او د سیمې د هېوادونو د ملاتړ جلبول به افغان سولې ته گټور تمام شي.

# د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

## تازه شمېرې: په اروپايي هېوادونو کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۴ سلنه ډېرې شوې دي

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ٤٠ میلیونو واوښت. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۱۱۹ زره او پنځه سوه کسان مړه شوي او له ۳۰ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.


د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۳۸۸ زره او ۱۳ ته رسېدلي او ۲۲۴ زره او ۷۳۲ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ۵۵۲ زره او ۲۶۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۲۳۵ زره او ۳۴۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۴۱۵ زره او ۳۱۶ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او ارجنټاین د ۹۸۹ زره او ۶۸۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

هسپانیا، کولمبیا، پیرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال په اروپا کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شویو شمېره تر ۲۵۰ زرو اوښتې دی. دا خبر داسې مهال خپور شوی چې اروپايي هېوادونه د کرونا ویروس د تازه پېښو د خوربدو د مخنیوي لپاره پر نویو لارو چارو غور کوي. اروپايي هېوادونو په تېرو اوو ورځو کې د کرونا ویروس د نویو پېښو د ۴۴ سلنې ډېروالی ثبت کړی دی. همدا د دې سبب شوی چې یو شمېر هېوادونه نوي محدودیتونه ولگوي. شمالي او جنوبي امریکا هم د کرونا ویروس د مخنیوي مبارزې ته دوام ورکوي.

په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان هم خبرداری ورکړی چې د کرونا ویروس دویمه څپه گواښوونکې ده او هېوادونه باید په دې برخه کې جدي تدابیر ونیسي. د یاد سازمان په خبره، د ژمني موسم په رارسېدو سره په ځینو هېوادونو کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.




## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زمينې برابرول




په استخباراتو کې زما تجربه محدوده وه، يوازې درې نيم کاله، له همدې کبله هغه ښايي د ويلو لپاره ډېر څه ولري، زه لږ لرم. له دې سره سره موږ يوې مشخصې پايلې ته رسېدلي يوو، چې خبره څه ده او البته همدا مرسته کولی شي چې له زړو لارو تمرکز بدل او د مخکې تگ نوې لارې وړاندې کړو. ځينې ښايي د هغه څه په اړه چې موږ يې وايو شکمن وي، خو که د افکار لږه برخه هم د هغوی لپاره مفهوم پيدا کړي، کېدای شي چې تصميم نيوونکو ته نفوذ وکړي.

دولت: هو، ما د کشمير په اړه په وروستيو دېرشو کلونو کې ډېر څه زده کړي دي. پر کشمير د پوهېدلو لپاره بايد له هغه سره خواخوږي ولرئ، تاسې بايد داسې احساس ولرئ، چې پر هغه چې څه پېښېږي، د پوهېدو جوگه مو کړي. که پر کشمير د ځان پوهول پيل کړئ، درک به کړئ چې په نړۍ کې نور هم ډېر څه پېښېږي.

کشمير زه پاکستان ته بوتلم. پر پاکستان د ځان پوهولو هڅې افغانستان ته ورسولم. د افغانستان د مطالعې پر مهال مې له کشمير سره د هغه ډېر شباهتونه پيدا کړل.

پاکستاني ليکوال احمد رشيد يو وخت ويلي وو: «که موږ د کشمير ستونزه حل کړو، د افغانستان قضيه به خورا آسانه شي.» کشمير دغه راز تاسې د منځنۍ آسيا لوري ته رهبري کوي. کله چې زه نړۍ ته گورم، درک کوم چې د کشمير له پېښو ډېر څه زده کېدلی شي.

جنرال صېب يو ځل د فلسطين د ستونزې يادونه وکړه. له بېلابېلو اړخونو هغوی داسې نښتي، لکه موږ چې په کشمير کې سرېښ يو.

په زړه پورې دا ده چې زموږ د همکارۍ خبرونه کشمير ته رسېدلي دي. يو شمېر کشميريانو ماته ويلي چې له دې ټول کړکېچ څخه د وتلو يوه لاره دا ده، چې يو شمېر هنديان چې پر کشمير پوهېږي د ISI له کسانو سره، چې د جنرال صېب نوم يې تل په سر کې راځي کېني. دوی وايي که موږ ته فرصت راکړی چې له تاسې سره کېنو، له دې حالت څخه د وتلو لاره پيدا کولی شو.

تر دې هم په زړه پورې دا ده چې يو کشميری بېلتون غوښتونکی هم هغې ته په همدې نظر گوري. هغه پوهېږي چې دا له پاکستان پرته نه شي پېښېدای. اوس حتی عامه ذهنيت هم دې پايلې ته د رسېدو په حال کې دی. مفتي صېب هم همدا ويل. محبوبه څه نه وايي. دا په ندرت د پاکستان يادونه کوي. د حيرانتيا وړ بيا دا ده چې ډاکټر فاروق په تکرار ويلي: «تر هغو چې هند او پاکستان خبرو ته نه وي سره ناست، موږ د کشمير لپاره حل نه شو پيدا کولی.»

سېنها: له هغه راهيسې چې جنرال صېب د کتاب يادونه کړې، پر تاسې په دې دليل چې ويلي مو دي، چې پيسو هم په کشمير کې رول ادا کړی، ډېرې نيوکې وشوې، سره له دې چې دا ښايي د يوه مسلکي لپاره راز نه وي.

دولت: تاسې ژمن يی چې ما زندان ته ولېږئ! کله چې څرگنده شوه، لکه جنرال صېب چې وويل په رسمي او مستقيم ډول هېڅ راته و نه ويل، خو ما درک کوله چې اداره خوشاله نه وه. ځينې کسانو نيوکې هم کولې. مستقيمي نه، لکه تا چې اورېدلې. زما لپاره د حيرانتيا وړ نه ده، ځکه نورو هم راته ويلي چې خلک خوشاله نه دي. ما ويل وي دې، ما يوازې کتاب ليکلی.

د پيسو په اړه څه شی مهم دي؟ دا د هر چا لپاره لويه خبره شوې ده. مخکښ ژورنالېست (هريندر باوېجا) زه غرمنۍ ته مېلمه کړم، يوازې د دې لپاره چې د پيسو په تړاو خبرې رانه وباسي. پيسې په ټوله نړۍ کې يو حقيقت دی.

دوراني: خندا

دولت: ما چې کله په (۲۰۰۴. ز) کال کې حکومت او د لومړي وزير دفتر پرېښود، ځينو زه په کشمير کې د ټولو ناکاميو په خاطر پړ وبللم. دا د همدغه کس تېروتنه وه، ده کشميريانو ته رشوت ورکړ. يوه ډېر لوړ پوړي افسر وويل چې ما په کشمير کې خپله لاره د رشوت پر مټ خلاصوله.

زما غبرگون داسې و: ولې له کشمير سره د معاملې هڅه نه کوئ؟ يا هم ماته د دغه کار د ترسره کولو غوره لاره وښيئ؟

**دوام لري...**

# ټي ايس ايليټ

شفيق اميرزی



ټي ايس ايليټ چې مکمل نوم يې توماس سترنز ايت دی، د ۱۸۸۸ز کال د سپټمبر په ۲٦مه د امريکا په ميسوري ايالت کې زېږېدلی دی. هغه د نولسمې پېړۍ مشهور نقاد، ليکوال او وتلی شاعر دی. د خپلو ادبي او نقدي فعاليتونو په لړ کې يې ډېرې نړيوالې جايزې گټلې دي او په دې بريالی شوی چې په شعر، ليکوالۍ، نقد او د هنر په نورو برخو کې نوښتونه وکړي او نوې لارې رامنځ ته کړي. تر ننه پورې هم د ادبي نظرياتو او نقد په برخه کې د ايليټ ليکنې او تگلارې د کارونې وړ دي او د ادبياتو محصلين او د دې برخې ليکوالان يې له نامه او کارونو سره اشنا دي. هغه د ادبياتو او هنر په برخه کې د دوکتورا تر کچې زده کړې کړې وې. د کورنۍ ماحول يې ټول زده کړو او تعليمي فعاليتونو ته مناسب و. نيکه يې کشيش و، پلار يې سوداگر و، مور يې له شاعرۍ او ليکوالۍ سره مينه لرله او د تره زوی يې د څلوېښتو کلونو لپاره د نړۍ د معتبر پوهنتون هاروارډ رييس و. همدې مسايلو ته په کتو، هغه ته د ښه ژوند او پرمختگ ډېر فرصتونه برابر شوي وو. ده د نړۍ د ادبي مسايلو مطالعې ته پور وخت درلود او د لرغوني يونان تر څنگ يې د اروپا په تېره بيا د فرانسې د ادبياتو کلاسيکې او د هغه وخت حاکمې ادبي نظريې او اثار ولوستل. ايليټ باندې د همدې اثارو اغېز و، چې دی يې پياوړی او نوموتی کړ.

توماس ايليټ په ميسوري ايالت کې زېږېدلی دی. پلار يې هنري وير اليوت نومېده. هغه د خپل وخت پياوړی سوداگر و، چې په امريکا کې يې په ډېرو فابريکو کې پانگونه کړې وه او ښې پيسې يې له دې درکه گټلې. مور يې بيا له ادبياتو او ادبي فعاليتونو سره مينه لرله. مدني فعاله او د بشري حقونو او په ټولنه کې د ښه والي د دودولو لپاره يې هڅې کولې. مور يې د دې تر څنگ د منظومو ننداړو له ليکلو سره هم مينه لرله. مطالعه يې کوله او له اليټ سره يې هم په مطالعه او زده کړو کې پوره مرسته کوله. آندره اليت د توماس نيکه و، چې په سيلم ښار کې قاضي و. ده هم مرفه ژوند درلود او په سيمه کې له ځانگړې درناوي برخمن و. د تره زوی يې چارلز ډبليو ايليټ پوره څلوېښت کاله د نړۍ د وتلي پوهنتون هارواړډ رييس و، با استعداده سړی و، خلکو ورته درناوی درلود او په علمي برخه کې يې په هغه وخت کې اغېزناک گامونه اوچت کړي وو. د توماس پلرونه په اصل کې نيوانگلنډيان بلل کېدل، چې ځانونه يې عيسويان بلل او پر خپل مذهب ټينگ خلک وو.

هغه لا د ښوونځي زده کوونکی و چې شعرونه يې ليکل او له ليکوالۍ سره يې مينه وه. توماس ايليټ په شپاړس کلنۍ کې د لومړي ځل لپاره د سميټ اکاډمۍ نومې نشريه کې خپل لومړني شعرونه چاپ کړل. ښوونځی يې په بريا سره پای ته ورساوه او د کانکور ازموينې له لارې هارواړډ پوهنتون ته بريالی شو. پوره اته کاله يې په دغه پوهنتون کې زده کړې وکړې او خپله دوکتورا يې هم همدلته بشپړه کړه. له ۱۹۰٦ز تر ۱۹۱۴ز کال پورې ايليټ په هارواړډ پوهنتون کې و. په هارواړډ کې يې چې زده کړې پيل کړې، دربيم ټولگي ته ورسېد بيا اروپا ته لاړ. دی لا محصل و چې د مطالعې او د فرانسې د ادبياتو د مطالعې لپاره دغه هېواد ته لاړ. په المان او فرانسه کې يې نږدې دوه کاله تېر کړل او بيا د خپلې تحصيلي دورې د بشپړولو لپاره بېرته هارواړډ ته راستون شو.

په ۱۹۱۰ز کال کې يې د ماسټرۍ سند هم له هارواړډ واخيست او تر هغه وروسته لاړ پاريس ته. دلته يې د اروپا د ادبياتو په تېره د فرانسې د زړو او نوو ادبياتو په مطالعه پيل وکړ. پوره يو کال په پاريس کې و او دې يوه کال مطالعې يې پر فکر او زده کړو پوره اغېز درلود. بيا له فرانسې آلمان ته لاړ او لومړۍ نړيواله جگړه د دې سبب شوه چې هلته يې پيل کړې زده کړې پای ته ونه رسوي. له دې ځايه آکسفورډ ته لاړ، د يونان فلسفه يې ولوسته او په همدې وخت کې د معتبرې نشريې فايبر مسوول مدير وټاکل شو.

په ۱۹۱۵ز کال کې په لندن کې هستوگن شو او له ويوين هيوود نومې نجلۍ سره يې واده وکړ. همدلته يې د معلمۍ او نقدي ليکنو لړۍ ته مخه کړه. خو هغه مهال ايليټ لکه اوس دومره نوموتی نه و، نه يې هم د ليکوالۍ او معلمۍ له درکه د خپل ژوند اړتياوې پوره کولی شوې، له همدې امله يې د معلمۍ تر څنگ په لويدز بانک کې کار پيل کړ. اوس نو په دوو کې حيران و. له يوې خوا يې بايد د خپل ژوند اړتياوې پوره کړې وای او له بلې خوا پر دې شکمن و، چې هسې نه کار يې پر ادبي ذوق او خلاقيتونو اغېز وکړي. ده له رواني او روحي اړخه له ادبياتو او ادبي ليکنو سره مينه لرله، زده کړې يې هم په دې برخه کې کړې وې، نو په بانک کې کار کول يوه اړتيا وه. همدا وخت د ايليټ د ژوند پرېکړه سخته شوه، خو په پای کې يې دا ومنله چې د خپل زړه او خپل ذوق خبره ومني. هغه په بانک کې له کاره لاس په سر شو او خپل ژوند يې شعر او شاعرۍ ته وقف کړ.

په ۱۹۱٦ز کال کې ايليټ د فلسفې په برخه کې خپل ډېزرټېشن بشپړ کړ او هغه يې هارواړډ پوهنتون ته ولېږه. هغه په دې مقاله کې د فلسفې په اړه مهمو مسايلو ته کتنه کړې وه. پر بېلو مهمو برخو يې بحثونه کړي وو، ځکه ده د يوناني او اروپايي فلسفې لوست ته ډېر وخت ورکړی و. همدا چې د دوکتورا پايليک ته ليکلې مقاله يې هارواړډ ته رسېږي، نو د دې برخې د ماهيرينو او پوهانو پام ځان ته اړوي. دا موضوع د دې سبب شوه چې د هارواړډ پوهنتون استادان ايليټ ته د امريکا د ورتگ بلنه ورکړي. هغه مهال دی په لندن کې په شعر ليکلو او مطالعاتو بوخت و. ده هم پرېکړه وکړه چې هارواړډ پوهنتون ته به ځي، له خپلې مقالې به دفاع کوي او وروسته به خپل ډيپلوم اخلي، خو بېوزلۍ او د مېرمنې ناروغۍ يې هغه ته د دې سفر فرصت ور نه کړ. هغه له دې دوکتورا پاتې شو، خو بيا يې په ژوند کې د نړۍ له اتلسو معتبرو پوهنتونونو اتلس افتخاري دوکتوراوې وگټلې.

ايليټ په لندن کې مېشت و او خپله شاعري يې کوله. د لومړي ځل لپاره يې د پاونډ په همکارۍ د (Prufrock and Other Observations) اثر په يوه ادبي مجله کې خپور شو. له دې وروسته يې څو شعري ټولگې چاپ کړې. تر ټولو مهمه او مشهوره شعري ټولگه يې (The Waste Land) ده چې په ۱۹۲۲ز کال کې يې چاپ کړې ده او هغه د دې سبب شوه چې د ايليټ نوم خوله په خوله شي. همدې اثر يې د لومړي ځل لپاره ايليټ ته جايزه هم وگټله. دې کتاب د ډايک په نامه ادبي جايزه خپله کړه. د دې اثر ليکل د ۱۹۲۱ز کال له منې پيل شوي وو او داسې مهال يې ليکلو ته ادامه ورکړه چې له سخت رواني وضعيت سره مخ و. همدا مهال د هغه مېرمن ناروغه وه، له مجبورۍ يې په بانک کې کار کولو ته مخه کړې وه او رواني فشار ان د ځانوژنې فکر ورته پيدا کړی و. له همدې امله د ايليټ دا اثر ځينې باريکۍ لري. داسې مسايل پکې شته چې لوستونکی فکر او پوښتنو ته اړ باسي. په دې وخت کې ډاکټرانو دا هم ورته ويلي وو چې له ليکلو دې نور لاس واخلي، چېرته دې تفريح او چکر ته لاړ شي. ايليټ هم لوزان ته ځي او هلته درې مياشتې چکر وهي، دغه وخت يې چې کوم شعرونه ويلي دي، په انگليسي ادبياتو کې ځانگړی ځای لري.

مخکې مو وويل چې ايليټ په بانک کې کار کاوه، خو دا دنده يې د يوې اړتيا او مجبوريت له مخې اخيستې وه. په ۱۹۲۵ز کال کې دې ته متوجه کېږي چې د بانک چارې يې پر تخليقي قوت منفي اغېز کوي او دی به ونه شي کړی چې د خپلو زده کړو مطابق پنځونې وکړي، نو په بانک کې له کار کولو ډډه کوي او ځي د کتاب خپرولو په يوه معتبر بنسټ فايبر کې فعاليت پيلوي. ده د فلسفې په برخه کې مطالعه کوله، همدې مسايلو دې ته اړ کړ چې د دين په اړه فکر وکړي، د ځوانۍ ډېر کلونه يې په بې دينۍ کې تېر کړل، خو له دې وروسته د انگلستان له کليسا سره يو ځای شو. له همدې وروسته يې په اثارو کې مذهبي او روحاني افکار رامنځ ته شول.

ايليټ پرله پسې ادبي کارونو دې ته وهڅاوه چې پر شته ادبي جريانونو نقد وکړي. هغه مهم ادبي نظريات وړاندې کړل، تر ډېره يې نظريات د نقد په برخه کې دي، لا هم د ادبياتو مسلکي نقادان د ايليټ له تگلارې او نظرياتو په استفادې پر ادبي اثارو نقد کوي. د ايليټ تر ټولو مشهو نقد د شکسپير پر اثارو و چې په هغه وخت کې ډېر مشهور او د دغو اثارو نيمگړتياوې او لوړتياوې يې لوستونکو ته وړاندې کړې وې.

په ادبي برخه کې د برياوو په دوام، ايليټ په ۱۹۴۸ز کال کې د انگلستان د سلطنت شاهي افتخاري مډال وگاټه. په همدې کال کې يې د ادبياتو په برخه کې د نوبل نړيواله او تر ټولو معتبره جايزه هم وگټله. د نوبل بنسټ هغه مهال په خپله خپره کړې اعلاميه کې ويلي وو، چې د ايليټ اثارو په معاصر شعر کې پرمختگ راوستی او شعر ته يې غنا ښښلې ده.

ايليټ د شعر او ادب تر څنگ د بشري پرمختگ لپاره او همدا راز د بشردوستانه همکاريو په برخه کې هم فعاليتونه تر سره کړي دي. ويل کېږي چې د دويمې نړيوالې جگړې پر مهال ايليټ ته له خلکو سره د بشري مرستو د تر سره کولو مسووليت ورسپارل شوی و او په ښه توگه يې مخ ته يوړ. هغه د زړه له تله له ځايي بنسټونو او هغو اداراتو سره همکاري کوله چې د بشري خدماتو په برخه کې فعال وو. ايليټ وروسته تر هغه نړيوال شهرت ته ورسېد چې د نوبل جايزه يې وگټله. ايليټ له دې وروسته ځانگړې محبوبيت درلود او کارونو ته يې هم د پخوا په پرتله لا ډېر د قدر په سترگه وکتل شول. په امريکا او برېټانيا کې د هغه مهال سترو شاعرانو ايليټ ته د مخکښ او پياوړي شاعر په سترگه کتل او د اثارو ستاينه يې کوله. ډېرو بيا د ده په تقليد شاعري کوله او د نقد چارې يې مخ ته وړې.

ايليټ په بېلو برخو کې د پام وړ کارونه کړي دي. لسگونه لکچرونه يې وړاندې کړي دي او لسگونه مقالې يې خپرې کړې دي. هغه ډېرې شعري ټولگې هم چاپ کړې دي. د هغه خپرې شوې مقالې او ان په پوهنتونونو کې وړاندې شوي لکچرونه مينه‌وال او لوستونکي لري. بالاخره د نړۍ په کچه دا مشهور تيوريسن او ليکوال د ۱۹٦۵ز کال د جنورۍ په څلورمه د ۷٦ کلونو په عمر وفات شو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦.۹۰ |
| € | ۸۹،۵۰ |
| Rp. | ۴۷۷ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰.۵۵ |
| £ | ۹۸،۲۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ډېر کار کول او بدې پایلې یې

ژباړه: نسیمه محمدي

له معمول سره سم سهار ژر کارځای ته ځو او د شپې ناوخته کور ته راځو. خپل ځان او کورنۍ ته اندېښمن یو. خپلې ورځنۍ چارې تر سره کوو. خپل ایمېلونه په کور یا د وزگارتیا په وخت چک کوو. کله کله هم هیله کوو چې کاش ورځ مو له ۲۴ ساعته زیاته وای. ډېر کار کول مو پر جسم او روح ناوړه اغېز لري، هر وخت به ستړي او بې دلیله خپه یاست، کارونه به مو هسې چې ستاسې زړه یې غواړي مخکې نه ځي او نه به هم هغسې پایله لاسته راوړی، چې تاسې یې د لاسته راوړلو لپاره هره ورځ کوښښ کوی. خو څنګه وکولای شی هم ډېر کار ونه کړی او هم ښه پایله لاسته راوړی؟ مور یې په همدې مقاله کې درته لارې چارې ښیو.

په حقیقت کې ډېر کار کول د وزن د ډېرېدو یا د چټک ډنګروالي لامل گرځي. البته دا هغه ستونزه ده چې ټول خلک ورسره لاس او گرېوان دي. د webMD موسسې د څېړنو پر بنسټ، ۴۴ سلنه لویان د خپگان او تشویش له ناارامیو کړېږي او له ۷۵ تر ۹۰ سلنه روغتونونه بیا له هغو ناروغانو ډک دي چې د خپگان له امله له پیدا شویو ناروغیو څخه اغېزمن دي.

د ډېر کار کولو زیانونه او منفي اغېزې

په عمومي ډول ډېر کار کول د دوو مسئلو په گډون، له ډېر سترېس او کم خوب سره پیلېږي. لومړی به د تشویش په اړه وغږېږو. په داسې حال کې چې نارمل سترس مرسته کوونکي اوسي، خو برعکس بیا مزمن تشویشونه چې هېڅکله نه غوځېږي؛ هره حلاره گواښوونکې برېښوي او ډېر خطرناک او زیان رسوونکي دي. که ډېرې ورځې د ناارامۍ او تشویش احساس لری، په زیات گمان پر زیات کار کولو روږدي شوي یاستی.

هغه مهال چې دا وضعیت ډېر دوام وکړي، د ډېرې ستړیا او خپگان سبب گرځي. تشویش هم د ډېری ناروغیو لکه د معدې اړوند ناروغۍ، لوړ فشار او د سینې قفس دردونو لامل گرځي. حتی کېدای شي د هغو ناروغیو چې اوس ورسره مخ یاستی، د لا ډېرېدو لامل هم شي.

همدارنگه سترېس یا خپگان کولای شي ستاسې خوب گډوډ کړي. کېدای شي هېڅ خوب در نشي او یا هم پوره او بشپړ خوب ونه لری. د وروستي ځل په اړه چې خو نه ورلی، فکر وکړئ، آیا ذهن مو مصروف و؟ خوب د بشر له اړینو اړتیاوو څخه دی، نو له همدې امله په شپه او ورځ کې له ۷ تر ۹ ساعتونو څخه کم خوب یا زیات ستاسې جسم او روح ته زیان رسوي. د خوب کمښت کولای شي چې تاسې پر خپلو چارو له سم تمرکز درلودو لرې وساتي او ستاسې د پرېکړې کولو قدرت کم شي.

همدارنگه باید پاملرنه وکړو چې ډېر کار کول پر رواني سلامتیا بده اغېز لري. مزمن سترېس له ژور خپگان او تشویش سره مستقیمه اړیکه لري او کېدای شي پر دایمي تشویشونو بدل شي. په بشپړه توگه ښکاره ده چې ډېر کار کول ستاسې پر شخصي ژوند هم منفي اغېز ولري. کله چې تاسې په کار کولو روږدي یاستی، تل په ټولنیزو چارو کې ناوخته گډون کوی او ډېر لږ د کورنیو تر څنگ اوسی. یا مو ډېری کتنې لغوه کړې دي، چې دا کړنه ستاسې د شاوخوا خلکو لپاره د خوښې وړ نه ده.

په پای کې ډېر کار کول په هره برخه کې د ډېرو ستونزو زېږنده دي، چې د یوه ښه او ارام ژوند درلودو په موخه باید ترې ځان وساتل شي.

څنگه هم خپل هدف ته ورسېږو او هم ډېر کار ونه کړو؟

په هغه صورت کې چې ډېر پر کار روږدي شوي یاستی، باید له ځان سره په دې اړه ښه فکر وکړئ او یا هم د دې برخې یو متخصص کس ته ورشئ. خپل مسوولیت، کاري حجم او ورځنی ژوند مو و ارزوئ او دا معلومه کړئ چې په څومره انرژۍ مصرفولو سره کولای شی خپل ژوند په ښه ډول مخکې یوسی. په چارو کې مزمنه بوختیا شرایط ترینگلي کوي چې نه باید داسې وشي، پر ځای یې باید ټولو ته وخت ورکړل شي او هرڅه په ښه ډول مخکې یووړل شي. تاسې کولای شی د سترېس کمولو په یو منظم فعالیت سره خپل ژوند د تعادل حالت ته راوگرځوئ. په لومړي قدم کې ځان ته یو پنځه دقیقه‌یي فرصت برابر کړئ او هېڅ کار مه کوئ. شاید عجیبه وي، خو یوازې کېنئ او خپل شاوخوا چاپېریال ته غوږ شئ. اړینه نه ده چې په دې لنډمهاله فرصت کې تاسې د ورځې لپاره کاري پلان ترتیب کړئ. یوازې کېنئ او خپلو ساه اخیستلو ته غوږ ونیسئ. وروسته بیا لږ تر لږه دېرش دقیقې د سبا ناري لپاره وخت ځانگړی کړئ. دا وخت بیا خپلو خوړو ته فکر وکړئ او کاري مسایل هېر کړئ. که چېرې ستاسې د سبا ناري وخت یو ساعت وي، له کور بهر لاړ شئ او څو د قیقې قدم ووهئ. په دغه موده کې پر هېڅ کاري مسئله باندې فکر مه کوئ. په پای کې هڅه وکړئ چې خپل کاري ساعتونه د امکان تر بریده کم کړئ. کولای شی دا چاره په ورځ کې د ۱۵ دقیقو په کمولو سره پیل کړی، تر هغو چې په اوونیزه توگه ستاسې کاري ساعتونه ۴۴ ساعتونو ته ورسېږي.

له سترېس څخه په ډکو شرایطو کې له هغه لارو چارو گټه واخلئ چې د سترېس په کمولو کې مرسته کوي. که کولای شی د خپل ذهن د ارامولو لپاره د کورنۍ له غړو سره وگورئ، له خپل همکار او یا هم ملگري سره د راتلونکي اونۍ د اخري ورځې د رخصتۍ په اړه خبرې وکړئ، چېرې به چکر ته ځی او یا هم کولای شی د دې ارامۍ د تر لاسه کولو لپاره مخ ته یوه لپه اوبه واچوئ. داسې فکر مه کوئ چې څومره تاسې ډېر کار کوی، په هماغه اندازه به ښه وی، مهمه دا ده چې په سمه توگه کار وکړئ. ژوند له هغې ډېر لنډ دی چې له ډېر کار کولو او ډېر خپگان او تشویش سره یې تېر کړی. لږ څه وخت هم د تفریح، له کورنۍ سره اوسېدلو او په ټوله کې له ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره ځانگړی کړئ.

## خلیلزاد: د امتیاز اخیستو لپاره د تاوتریخوالي زیاتول گواښوونکي دي

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد وایي، د مذاکراتو پر مېز د برلاسه کېدو په نیت د تاوتریخوالي زیاتوالی د سولې بهیر ته زیان رسوي.

نوموړي د تاوتریخوالي زیاتوالي په اړه پر خپل ټویټر لیکلي: «دا باور چې د مذاکراتو په میز کې د امتیاز گټلو لپاره باید تاوتریخوالی ډېر شي، ډېر خطرناک دی. دغه ډول چلند کولاې شي د سولې بهیر زیانمن کړي او د افغان مشرانو پخواني ناسم محاسبات بیا تکرار کړي.»

خلیلزاد ویلي، که څه هم چې په هلمند کې د وسله والو طالبانو بریدونه کرار شوي، خو زیاته کړې یې ده چې د هېواد په نورو برخو کې تاوتریخوالی زیات شوی دی.



هغه د غور د وړمې ورځې موټر بم برید چې ۱۲ تنه پکې ووژل شول او څه باندې ۱۰۰ تنه یې ټپیان کړل، د تاوتریخوالي زیاتېدو یوه بېلگه یاده کړې. نوموړي زیاته کړې چې په هلمند کې د وروستۍ جگړې، د افغان ځواکونو پر ضد د طالبانو بریدونو او همدارنگه د افغان ځواکونو د عملیاتو او نړیوالو ځواکونو د بریدونو په اړه په دوحه کې وروستۍ غونډه وشوې.

خلیلزاد ویلي چې په دغه غونډه کې زموږ( امریکا ـ طالبان) ترمنځ هوکړه‌لیک کې یو ځل بیا د معاملې د ټولو ابعادو د عملي کولو پر ژمنې ټینگار شوی دی.

هغه زیاته کړې: «ټولو خواوو توافق وکړ چې بریدونه او بمبارۍ به لږوي او تاوتریخوالی او مرگ-ژوبله به کموي. که څه هم په هلمند کې تاوتریخوالی لږ شوی، خو په عمومي توگه په هېواد کې تاوتریخوالی ډېر دی.»

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې په دې وروستیو کې له ټینگار سره سره، بیا هم په افغانستان کې د تاوتریخوالي د زیاتوالي کچه پر ځای پاتې ده.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو وړمه ورځ په یوې اعلامیه کې وویل چې بهرنیو ځواکونو د دوحې له توافق څخه په سرغړونې په هلمند او فراه کې د دوی پر جنگیالیو هوایي بریدونه کړي دي.

خو زلمي خلیلزاد ویلي چې د سرغړونو بې بنسټه تورونه د سولې له بهیر سره مرسته نه کوي، بلکې په وینا یې، باید د امریکا ـ طالبانو په توافق او امریکا او افغان حکومت گډې اعلامیې باندې عمل وشي.

## سیمه‌ییز چارواکي: د پاکستان له لوري یوځل بیا پر کونړ راکټي بریدونه پیل شوي دي

د کونړ سیمه ییز چارواکي وایي چې د پاکستان له لوري یوځل بیا پر افغان خاورې راکټي بریدونه پیل شوي دي. په تازه پېښه کې د چارواکو په خبره، د مرورې ولسوالۍ ترخو اوبو سیمه کې پر یو کور توغندی لگېدلی دی.

د کونړ د والي ویاند غني مصمم امریکا غږ ته ویلي چې د راکټ دغه مرمۍ د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې پاکستاني نظامیانو ویشتلې چې یوه ماشومه پکې وژل شوې او د مور په گډون یې د کورنۍ څلور غړي ټپیان شوي دي.

مصمم وایي، په تېرو دوو ورځو کې د پاکستاني نظامیانو له لوري یوځل بیا د کونړ ولایت په مرورې ولسوالۍ گڼ توغندي راتوغول شوي دي.



د یادونې ده چې له تېرو څو کلونو راهیسې د کونړ پر یو شمېر ولسوالیو د ډیورنډ فرضي کرښې له هغې غاړې څخه توغندیز بریدونه کېږي، افغان چارواکي وایي چې دغه بریدونه پاکستاني نظامیان کوي، خو پاکستاني چارواکي ډېر وخت دغه ادعاوې ردوي.

روان کال د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب کونړ ته د سفر پر مهال پر کونړ ولایت د پاکستاني پوځیانو راکټي بریدونو ته په اشارې ویلي وو چې دغه بریدونه به بې ځوابه پاتې نشي.

په تېره میاشت کې پر کونړ د پاکستاني ملېشو په راکټونو بریدونو کې د چارواکو په وینا اته ملکي وگړي وژل شوي وو.

په ورته مهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محمد حنیف اتمر هم د روان کال په وړي میاشت کې افغانستان ته د پاکستاني پلاوي د سفر پر مهال د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د نورو ستونزو د هواري ترڅنگ پر کونړ او نورو ولایتونو د راکټونو ویشتلو بندولو غوښتنه کړې وه، خو د پاکستاني لوري له ژمنو سره سره، لاهم دغه بریدونه نه دي درېدلي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۰مه | ٦۱۴مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۲ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ▼ | ۸ | ۶ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۰ | لمر ختل ۰٦:۰۲ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:٤۸ | ماښام ۰۵:۱٤ | ماخوستن ۰٦:۳۸

## صالح: فهرست مجرمان بزرگ و کوچک به حوزه ها و ناحیه ها سپرده شده است



امرالله صالح، معاون نخست رئیس‌جمهور در سومین روز مسئولیت‌اش برای مبارزه با مجرمان در پایتخت، می گوید که برخی از موارد مهم از آن میان مهلت دوماهه برای موترهای بی اسناد، تخریب بلندمنزل های بی قانون و آغاز ثبت شکایت های مردم و بررسی آنان در نشست روز دوشنبه آنان بحث شد.

آقای صالح در باره دیدارش با مقام های امنیتی نوشته است: «برای تمام موتر های بی اسناد دو ماه وقت داده میشود که مراحل محصول و مالیه را تکمیل و اسناد بدست آوردند. امروز(دیروز) وزارت مالیه مقدار مالیه را نظر به سال تولید تعین می نماید.»

آقای صالح از یازده مورد را در باره دیدار روز دوشنبه اش ذکر کرده است. به گفته آقای صالح، به هر قضیه از سوی نهادهای امنیتی رسیده گی خواهد شد.

همچنان، او گفته است که در این دیدار فیصله شد تا گدا ها و سوالگر ها اجازه ایستاده شدن و یا بساط پهن کردن در وسط سرک ها را نخواهند داشت.

او می گوید که بلند منزل هایی که امر ساختمان ندارند ولی زیر کار اند تخریب میشوند و دو نمونه دیروز تخریب شدند. آقای صالح می گوید که به تمام دکان هایی که پیاده رو ها را بسته اند هشدار داده شده است که پیاده رو ها را بازکنند.

به گفتهٔ آقای صالح، فهرست مجرمین کوچک و بزرگ ناحیه به ناحیه، حوزه به حوزه و گذر به گذر در اختیار آمرین حوزه ها قرار گرفته است. برای اقدام اطلاعات کافی در اختیار دارند.

## نړۍ



د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

**تازه شمېرې: په اروپايي هېوادونو کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۴ سلنه ډېرې شوې دي**

۳

## نیویارک ټایمز: د ټرمپ بیا ټاکل کېدل به د ولسواکۍ جنازه وباسي



امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز په خپله سرلیکنه کې په امریکا کې ټاکنیزو ناندریو ته په اشارې ویلي چې ټرمپ د امریکا ډیموکراسي او نړۍ، دواړه سخت اغېزمن کړي دي.

د ورځپاڼې په باور، ټرمپ په خپله تېره څلور کلنه دوره کې امریکا او نړۍ ته درانه زیانونه رسولي او که د دویم ځل لپاره ولسمشر شي، نو په امریکا کې به د ولسواکۍ جنازه واخیستل شي. ورځپاڼې زیاته کړې، ټرمپ له واک څخه ناسمه ګټه پورته کړې، د خپلو سیاسي مخالفینو له مشروعیت څخه یې انکار کړی، ملي منافع یې د خپلو اقتصادي او سیاسي موخو قرباني کړې، د امریکایانو ژوند او ازادۍ ورته هېڅ ارزښت نه لري، نو دا او ورته ډېرو نورو مواردو ته په کتو، ټرمپ د امریکا د تاریخ تر ټولو بې بندوباره او بې باوره ولسمشر دی چې بیا ټاکل کېدل یې امریکا له نه جبرانېدونکي ننګونو سره مخ کولی شي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې به د نومبر په درېیمه ترسره شي. په دغو ټاکنو کې له ډیموکراټانو څخه جوبایډن او له جمهوري غوښتونکو څخه ډونالډ ټرمپ یو د بل سیالۍ ته ولاړ دي.

## امریکا: له ایران سره د وسلو پر کاروباریانو به سخت بندیزونه ولګول شي

امریکا ګواښ کړی چې په هر هغه کس یا بنسټ به بندیزونه ولګوي چې له ایران سره د وسلو کاروبار کوي. امریکا دا ګواښ وروسته له هغې کړی چې تهران ادعا وکړه چې د ملګرو ملتونو له خوا وربانديې د وسلو لګېدلی بندیز پای ته رسېدلی دی.


له ایران سره د نړۍ د اټومي قدرتونو د ۲۰۱۵ ز کال د تړون په اساس د ۲۰۲۰ ز کال د اکتوبر ۱۸مه پر ایران د وسلو د بندیزونو د پای ته رسولو نېټه ټاکل شوې وه، په دې شرط چې ایران پر خپلو ژمنو عمل وکړي.

خو د امریکا متحده ایالتونه په ۲۰۱۸ ز کال کې له ایران سره له شوي اټومي تړون ووتله او بېرته یې پر دغه هېواد یوځل سخت بندیزونه ولګول. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په یوه اعلامیه کې ویلي چې امریکا چمتو ده چې د خپلو ادارو پر مټ په هر هغه کس یا بنسټ چې په ایران باندې د متعارفه وسلو په پلور، پېر، انتقال او اکمال کې ښکېل وي، بندیزونه ولګوي.

د یادونې ده چې ملګرو ملتونو سازمان په ایران باندې د ټانکونو، جنګي الوتکو او درنو توغندیو په څېر د متعارفو وسلو بندیز لګولی و چې د رواني میاشتې په ۱۸مه دا نېټه پای ته ورسېده.


## ژوند

## ولې ځینې مدیران په مالي چارو کې بریالي دي؟



د دې لپاره چې د پیسو په مدیریت کې بریالي شي، د هغو کسانو عادتونه، کړنې او ځانګړنې خپلوي او په اړه یې څېړنه کوي چې له هغوی وړاندې یې پر دغه لار قدمونه اېښي دي. همدا لامل دی چې کوچني مالي مدیران له لویو هغو سره ملګرتیا کوي او غواړي د ځان لپاره یې مخ‌بېلګه وګرځوي. تل د نویو مالي ستراتېژیو د زده کړې په لټه کې وي. هڅه یې دا وي چې په دې برخه کې نوې شیان زده کړي او له ټولو نویو اقتصادي خبرونو ځان خبروي. بریالي مدیران د ژوند له هرې ګړۍ څخه د زده کړو لپاره ګټه اخلي. که پام ورته وکړئ، په موټر کې د راډیو له لارې اقتصادي خپروني اوري، د اقتصاد او پیسو لاسته راوړلو په اړه کتابونه لولي، په ورځپاڼو کې یوازې په اقتصادي خبرونو پسې ګرځي او په ټوله کې د پیسو لاسته راوړل او لارې چارې یې ورته په یوه عادت بدل شوې وي.

## نوکیا په سپوږمۍ کې ۴جي فعالوي



نوکیا د امریکا فضایي اداري له ناسا سره سپوږمۍ کې د ۴جي خدمتونو وړاندې کولو لپاره ګډ کار پیل کړی او د دې موخې لپاره له ناسا څخه بودېجه هم تر لاسه کوي. په سپوږمۍ کې د ۴جي خدمتونو له فعاله کېدو څخه وروسته به فضانوردان وکولی شي خپلې تجربې او تصویرونه له مینه‌والو سره د انسټاګرام یا نورو ټولنیزو شبکو له لارې شریک کړي. دغه فنلنډۍ کمپنۍ به په سپوږمۍ کې د ۴جي لومړنۍ ټلیفوني شبکې جوړولو لپاره له ناسا څخه ۱۴٫۱ میلیونه امریکایي ډالره بودېجه تر لاسه کړي. له نوکیا سره دغه تړون د ۳۷۰ میلیونو امریکایي ډالرو هغو تړونونو یوه برخه ده، چې ناسا یې په ۲۰۲۴ کال کې سپوږمۍ ته د بېرته ستنېدو لپاره له مختلفو کمپنیو سره کوي. د راپورونو پر بنسټ، دا ځل به سپوږمۍ ته سفر کوونکې ډله کې یوه ښځینه هم شامله وي. ناسا وايي چې دغه تړون یې د نوکیا کمپنۍ امریکایي څانګې سره کړی؛ خو ټوله کمپنۍ به په دغه برخه کې مرسته کوي. ناسا د دغه تړون د غونډې پر مهال وویل: «دغه سیستم به د سپوږمۍ په سطحه له لرې واټن غوره اړیکې او ښه سرعت د پخوا په پرتله ډېر پرمختللي کړي.»

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515